
شعري ټولګه
د سپوږمۍ
تر کلي
Ketabton.com
شاعر: شفیق الله مست

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

# زما د ژوند ښکلا ته

**/1/مرغومی/1401**

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

# الحمدالله

دسپوږمۍ ترکلي کتاب زمادوهمه شعري ټولګه ده خوښ اوویاړمه چي الله ج ماته دومره توفيق اوتوان راکړچي خپله دوهمه شعري ټولګه دګرانولوستونکومخي ته کیږدم یولیکوال وايي کله چي تاسوسږکال دتیرکال لیکني ګورۍ که کومه تیروتنه موپکي ونه لیده په دي معنا چي تاسوهیڅ پرمختګ نه دی کړی (دکلي چنارمات شو)زمالومړۍ ټولګه ده کله چي یي اوس ګورمه زیاتي نیمګړتیا وي په کي وینمه نوپه همدي اساس خوښ یم چي کم پرمختګ مي کړی

**ستاسوورورهمت لطيفي**

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

ســــــــــا يي له تنه ا وتنّه يي له جها  نه وځي
کــــه جرم هرځای وي خو تاويي له افغانه وځي

اسلام تر پښو لاندی کوي غير ت پښتو څه کوي
زما د ټولني هر يو ځــــوان اوس له ايمانه وځي

په چيغو چيغو درتــــــه وايمه افسوس اوافسوس
زموږه پيغلي له حجا به خــــــوشحال خانه وځي

ketabton.com - The Digital Library

**داظلم نه دی؟سترګي څنـــګه باندي پټي کړمه**

**چي پیښورمـــــــي له خواږه افغانستـــــانه وځي**

**زه دافغـــان په حال ژړا کړمـــــه همت لطیفي**

**هره سلــګۍ مـــي له افـسوس اوله ارمانه وځي**

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

ستــاله نښو ديوالونه ږدم لګـيـــــا يم
په يــادودي غزلونه ږدم لـګــيـــــا يم

ماتــه داهم دسپـــڅلي ميني حـــددی
په کـتاب دي تصـويرونه ږدم لګيــــايم

اوس به تــاوايابه ځان وژنم رقيـــــــبه
زه په جـــيب کي خنجرونه ږدم لګيايم

ketabton.com - The Digital Library

دځوانــۍ همدايوه مسته فلســـــفه ده

چي پــه زلفو کی گلونه ږدم لگيـــايم

دوه مين به بيخي ببيل نشي پښتونـــه

يوځه بل شان رواجونه ږدم لگيا يـــم

دايو څوداني شعرونه دهمـــت جـــان

زه په تاباندي مجنونه ږدم لگـيا يـــم

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

په کليوال ژوند کې ديدن اومازيـګرخوندونه

ياره په کلي کې اوس نشته دګـــودرخوندونه

شم په ژړا باندې ويـــده اوشم راويښ په ژړا

اوس بيخي نشته دماښـــام اودسحر خوندونه

ټول بازاريان شول کليـــوال په موږکي پاتې نه شوو

په کـــلي نشته دی دياراود د لـــبرخوندونه

ketabton.com - The Digital Library

هغه ســاده پا ده رواج زمابیـــخـــي یادیږي

چي به په ژمي کــي مواخـیستـل دلمرخوندونه

دغروپه څوکو کي جګـــــړي له دښمنانو سره

نه مي هیریږي په هیڅ وخت کي دسنـګرخوندونه

په دي دنیاباندي یي هیڅ ښا دي لیدلي نه ده

خدایه همت ته ورنصـــیب کــړي دکوثرخوندونه

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

که زمـــــادروح وژل غواړي نووایه

که له مازړه صـــبرول غواړي نووایه

هرحالت که وي خاموشه مه ودریږه

کـــه زماسرپړي کول غـوا ړي نووایه

څه دروبه ګورم ستـاخـاطربه وکړم

کـــــه په مامئینیدل غواړي نووایـــه

ketabton.com - The Digital Library

زه غمجنو شـــپوته بیا به وررهي شم

کـــــه له ما نه بیلیدل غواړي نووایه

زه دي مینی ته چمـتویمه که ته هم

په اورووکي سوځیدل غواړي نووایه

دهمت لطیفي زړه سوری سـوری ده

اخ کـه ته یي هم لیدل غواړي نووایه

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

څه عجيبه ورځې شپې راغاړي وتي دي

وخته شـــب ګيري راغـــاړي وتي دي

مخــــــــکي زندګي ډيره اسانه وه

اوس خوحــــــادثي راغاړي وتي دي

زه يي پرمختـــګ نه راهيســـــارکړمه

داســــــــي زمـاني راغاړي وتي دي

ketabton.com - The Digital Library

**زمادغزلونو په خـــــوږلوشـــــــوي**

**داسي کتــــــــابچي راغاړي وتي دي**

**هرخواتـه چي څمه شرنګ اوشرنګ کوي**

**ماته زولـــــــــني راغاړي وتـــي دي**

**هرخـواپــــه قيصو کي راهيسار همت**

**اوس هسي قيصـــــى راغاړي وتي دي**

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

مورِچي له کوره ووځووکـــــــــــړوپه بيدياخبري

مورِته راپاته دي اوس صـــــــــــرف دميدېياخبري

زما ديواه اوافســـــــــــــــوس به ځواب ونه وايي

ته دي راجمعه کړه دټولـــــــــي پښتون خواخبري

مورِه شعاريوچي وطـــــن دي راته جوړشي خپله

مورِه له خولوڅخه وباســــــــــــوبي معناخبري

ketabton.com - The Digital Library

دازادۍ په ننګ چې مړشي غيـــرتي به نګاري
ماته راپاتي دي زموږداحـمدشـــــــــاه خبري

نجوني موکينوۍ پرکور تعليم تــه نه دي درومي
هــمــدايــــوځــووي دطالب اوډمُـلاخبري

وطن يي پريښودبريالى ورځخــــــــه وتښتيده
ماته هيڅ مه کوه دهــــغـه بــــي وفــاخبري

که حق وينـــــامي وکړه داخبربه اوورشي راته
همت کافرشولوهــــــمــــــداوي ده داناخبري

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

زموږدتعليم مبارزه به بي حسابه نشـــــــي
خوچي خورجانه موپښتونه بي حجابه نشي

زموږه خوراوتعليم داس ريکاب غوندي ده
داس سورلي به په هيڅ وخت کي بي ريکابه نشي

که وخت بدلون وکووطن موابادي ته شوليږ
همته دغه زمانه به دي هيڅ يـــــاده نشي

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

چـــي موږله وخت که وخت له موږ سره سوداکړي ده
هيـــــــــخ پري پوی نشومه چي چاراته ښيرا کړي ده

نــــــورژونـــــــدون نه کومه غلی تقاعدتري اخلم
کـــــه هــــرڅـوبـــده ده ماداسي لبوالتياکړي ده

افغـــــــان ښـــــــونکی يم ټولني ته خيرنه رسوم
بياهم وطن پال يم ما پوهنـــــتون نه استعفا کړي ده

همته څومره يـــــي لـــه درده اولـــــه سوسزه باسی
څومــــــــره دردمـــــنه اوغمحنه دي وينا کړي ده

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

وخـــــته ســـــــوداگـــره خوندور نه يي

زيږه مازيــــگــــــــره خــوندور نه يي

هروخت چي راويښ شم ژړغونــــــــی يم

اې سپــــــينه سحــــــره خــوندورنه يي

اوس بيخي عجيب اوبدل شـوی يــــــــي

زمـــــــــــادزړگــــي سره خــوندورنه يي

ketabton.com - The Digital Library

زه دي بيخي مړ په ستـــــــمـــــــونويم

زمـــــايــــاره كــــافره خـوندور نه يي

اوس منـــــگي دنجونوپري قـــطارنه دي

اې ړنــــگــــــــــه گودره خوندور نه يي

ها!همت خـــــــوږه مينـــه هرڅه داسي

هيـــردي كـــــــــړو دلبره خوندورنه يي

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

سل وســـواسه مـــي په زړه کي ډيري لاري
چي زه ځـــــم له کـــــلي ته راپسي ژاړي

ولي دومـــــــره په حيرت کي راته ګري
هسي نه چي ستانـــادان زړګی مي غواړي

زندګي مي بيخي ډيـــــره شـــوه بدرنګه
نيـــمی مـــــړشومه له ماڅخه چي لاړي

ketabton.com - The Digital Library

په هـــمت بانـــدي هغــــسي هم بوج شوی

عزرايله روح مــــــــي واخـــله که يي غواړي

## غزل

خزان وهلـــي ګلابــــو ســـــره مشغوله يمه

که ژونـــدون نه کړمه بياهم ورته مجبوره يمه

زموږده دواړوجــــدايــــي لامل همدغه يوده

هغه ګلاب زماتـــربورزه يــــــــــي تربوره يمه

ketabton.com - The Digital Library

**مورږه په یـوبل بیخې زیات ترحدودوگران یو**

**هغه دانځرگل غـــوندي ده زه لکه کجوره یمه**

**مورږه په مینه کي یوبل ورک کړوبي ځانه شولو**

**هغه په مااوزه هغـــــــــه پـــسي تروره یمه**

**زمادمرگ په پـــــلان لگیاوو ماپه سترگو لیدو**

**زمـــــاگـناه څـه ده همته بـــــــي قـوره یمه**

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

مینه دي ورکړله هرچاته له زړګي همته
همدغه خلـک دي اخیرهم ژړوي همته

ماچي دزړه په وینووساتل څه یي کوم
هم هغه خلـــک هم اوبه راخړوي همته

ددغو خلکو مرسته مه غواړه هغسي پریږده
چي ژوندون خدای درکړوبس خدای به دي ساتي همته

ketabton.com - The Digital Library

**که زماخیر غواړي هغه دي لیږخوشحاله ساتي**

**پـــــــه یوسړیباندي دي مانه ځوروي همته**

**چي هغه لاړه زه وفـات وفات شوم پسي**

**نورپه دنیــــــــاباندي کوم نه زندګي همته**

**زمادلاس یوه همساده خدای دي ساتي راته**

**دچــــــــــادپاره چي کومه شاعري همته**

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

حـجـره ویده ټپي ویدي اوسِـــتـــار ویده دی
زموږ له ښـاره خلک تللي دي ټول ښارویده دی

موږیي اخیستی نشـــوناست یولاس ترزنی ورته
زموږدوطن په خـــزانـــو باندي ښامار ویده دي

له خوبه مه یي پاڅوې په خوب مین غوندي دی
افغان وګړی څـــه په نـاز اوڅه په جارویده دی

څنګه یي پـــــه ډک نس خوري خواړه به درته زهرنشي
په ړنګه خونه کـــــي یتیم ماشوم نهارویده دی

ketabton.com - The Digital Library

په هــديره باندي سيلۍ مه ورځه خداى ومنه

په هديره کي بويتيم دخپل شهيد پلارپه مزارويده دی

افـغـانســــــتان وطن موبوزۍ ابادي طرف ته

زمـاپـــــه غــــيږکي ابادي ته انتظارويده دی

کتاب درپورته کــــړيه ژبي يي ليږ خنډوهيه

په کــــــــتابونــوموله ډيروخته غبارويده دی

اغــــيارلاورک نه ده داغـــــتـه تيروتنه کوۍ

دګران وطن افغــانســـتان پرهره لارويده دی

ketabton.com - The Digital Library

**دایـــــوه پـښتنه مـي له یاره کوم یادته راغله**

**داستاپه سپین مخ کي ګلاب اوکه رخسارویده دی**

**وطن دي جـــــــوړکړي په تعلیم اوپه قلم همته**

**ستـــــــاپه خبروکي همدغه یواقرارویده دی**

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

ما دځان نوکر کـړه له خپل ځان سره مي وساته

هــځ چي ديدن رانه کړي ارمان سره مي وساته

اې زړگيــــه څه کړي ليونی شوي جدايي کوي

مــــاورڅــخــه مه بيايه جانان سره مي وساته

زه په دي اشعــــارو شاعري باندي زړه نه بايلم

ماله ځـــــــان سره که له قران سره مي وساته

ستادي جـدايـــي اوبيلـتانــه ډيرسوځولی يم

ليږمي دروچت کړه له پيــزوان سره مي وساته

ketabton.com - The Digital Library

مـــاله لاسه مـه باسه یاقوت غووندي غمی یمه
لیږفکر پري وکړه اوله پـــــلان سره مي وساته

اي خدایه جنت راکړي په هغي دنیا غواړم یي
داهیله مــــي پوره که له ایمان سره مي وساته

زموږ غرورچي ټیټ نه کړي همته شاو خوا گوره
دنگه موشمله کــــــه له اسمان سره یي وساته

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

زه په خپـله باب یمه موضـوع یمه مضمون یمه

زه ســمـبول دامـــن دیـــوالي اوسمون یمه

زه دي له زندانه څخــه ډارنــه کړمه وایي وره

زه خپــله زندان یـــمه ولچک یمه پښتون یمه

مـاپه یخني مه نـیسه یخـنـــي به درته ونیسم

زه په سپینوواوروکـــي له کـورڅخه بیرون یمه

داهمـــــت ملي بیرغ وطن افغانستان دي وي

ستا په خیال کافریم منافیق یم که ملعون یمه

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

زه چي نه ورتلم دشپـــــي راپسي راغله

چي مجـــــبوره شوه دلي راپسي راغله

دمرگـــــي سلگۍ مي تم نشوه سينه کي

ماچـــــي ته ترلاس نيوي راپسي راغله

مادمـــــرگ دپريښـــتي اطلاع راوړي

چي تـــــــرخوته پتېدي راپسي راغله

داجـــــل مــرمــۍ راوتــي له ټوپکه

ماايـــــله کـه زمـــاني راپسي راغله

ketabton.com - The Digital Library

پــــه بـهــرکي څه غــوغاشوله همـته
دوزخـــــونوته ادي راپســــي راغله

# غزل

زندگــــــي  څه ده تصويـــردخالي کوردی
زماژوندهغه يوکـــس دی بـــــــــل موردی

چـــــاهـمـداسي په انعــام راکړي نه ده
خپــــــــلواکـي موله هرچاوړي په زوردی

ketabton.com - The Digital Library

چـــي ترنـنــــه مــــي وژلونـــــاپوهـــــي کــــي

نن شوم پوه چي زه يي ورورهغه مي ورورډی

اې نــــــاپـــــوهه مسلـــمــــان رابـــيــــــدارشه

زمـوږکـــتاب قران کـــريم سوی پــــه اووردی

زمـــــــوږ په ښارکي خلــــک بياراجمعه شوي

زموږ په ښارکي څومره ځوږ دی څومره شوردی

قــــــلم څـــــه دی زه يــــــي نه غــواړم همته

زماپه لاس کـــي يوکولنګ دی اوبل لوردی

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

مور خــومور وي خوپه ژوندکي يوسړی ښه وي
گـــودر هم ښه ده خوپه غاړه يي منگی ښه وي

په غــټ بادشاه پسي له شانه ځي عجيبه عادت
مـــــيږو،اوزو،پسو،اوښانوته شپونکی ښه وي

ښکـلي په يادنه راوړي هيڅ چي عياشي نه کوي
دعيـــــــاشي په ښارکي داسي يوزړگی ښه وي

ژمي کي يخ وي اوپه مــــني کي ارمان رژيږي
دکـــال په ټــولوموسمــوکي پســـرلی ښه وي

ketabton.com - The Digital Library

چي ټول رازونه دي په خوله ورته بيان کړي دزړه

خوږوياړانوکي همــــــته ليــونی ښــــه وي

غزل

زه چي راتلمه دي دنـــياته انتـــظـــام نه کيده

زه داسي ښـــارته راغلم هيڅ مي احترام نه کيده

ځيــــــــني مغروره .وو سلام ته يي عليک نه ويل

ځيــــــــني بياداسي ووچي زماورته سلام نه کيده

مادغــــــزل توري ليکل قلم په لاس کي ناست وم

کاغــــــذمي مخي ته وو ماتــه هيڅ الهام نه کيده

ketabton.com - The Digital Library

ستاپه لاســـــونو پخه شوي ډوډۍ څـه ووایم
زما کوښښ ستــاسو په هیڅ یوه اتـــام نه کیده

تاشهیدان کړل یابـــندیان دي کړلــوولي ولي
مـــــاته امــــرونه په جهاد کي دامام نه کیده

همـــته ځـــــینو په وفـــا بي وفـــایی وکړله
ځـــکه له مــــاڅخه امیــد يي دانعام نه کید

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

په تامـــــــي زړه بايللی ولو اي رايـــــاديدي
يووخت وو چي دورځي اودشپي رايـــــاديدي

ويل به يي زړګی مي يي قسم دی راته ګران يي
ماښـــــام کي به خبري دهغي رايـــــاډيدي

يودوه ورځي وم تللی خواوس بيرته درته راغلم
بس نه کيـــــدله ماتـــــه به ادي رايادېدي

چاغـــــوښته فحاشي په ښاردتورواودننګ کي
خومـــــاته يي دننګ هسکي شملي رايادېدي

ketabton.com - The Digital Library

حیـــران یي کړمه ډیري زړوري وي چالاکي

علي بن سُفیـانه ستاجاسوسي اداري رایادیدي

له تانــــــه چــي جداشومه ښه لري درنه لړم

همته بیـــــــخي نه مي هیریدي رایادیدي

ketabton.com - The Digital Library

# غزل

تـــــه چي په مابـــاندي مينه شوي ټکورمي شوي
خـــوچي جـــــداشووله يوبل څخه پيغور مي شوي

ستــــاهغه يولـــــيک مي ساتــلی لاتــراوسه پوري
چي دي په سپين کاغـــذ ليکـلي ولوورورمي شوي

وطنـــــه ســــــتابچي په قــــدرداستانه پوهيږي
چي په اوروباندي مي وســــــوزلي کور مي شوي

ketabton.com - The Digital Library

اول مي هيڅ نه وي همـــدابه نـاپوهي وه زما
خودمرگي سلگۍ چي ودي کـړله مورمي شوي

لــه مــــانــه لري گرځــيدي په بيابانوهمته
څنگ ته چي رامي غلي ده دواړومتوزوزمي شوي

## غزل

دڅه شي مينه ده په څه خبري مـــــاته کوي
داپـــــه زړه نه کوي په خوله خبري ماته کوي

ترهـــغـــه بلي ورځي پوري زماشاگردپاته وي
دخـــدای قربان شمه اوس ته خبري ماته کوي

ketabton.com - The Digital Library

دغه ستــانه دي درقيب دي زه پوهيږمه زړه

هروخـــــت لگيايي دهغه خبري ماته کوي

زه هيڅ درگورم نه په هرڅه دي لعنت وايمه

شرمـــــيږي نه چــي دواده خبري ماته کوي

همـــــت دي وځوراوه ډيره بي وفــا وختي

بس بس چـــوپه شــه ليوه خبري ماته کوي

ketabton.com - The Digital Library

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*